# د خوشحال بابا نه وړاندې د بهاريه قصيدو روايت او تاريخي جائزه

## A Historical Review of the Tradition of Baharia Qasedas before Khushal Khan Khattak

Dr Nagina Khanam*

Dr Farkhanda Liaqat**

**Abstract:**

Qaseda has been in origin in Arabic Literature before the advent of Islam and transmitted to us from the same. In Arabia Qaseda usually represents the local environments and surroundings. Baharia Qaseda actually represent the spring season. The Arabian deserts denote a very beautiful and eye capture view in spring season. In this paper I will thoroughly go into the Baharia Qaseda and will have an analytical and historical approach to the topic in depth.

**Key Words:** Qaseda, local environments, Baharia Qaseda,

د قصيدې وجود د اسلام نه اګاهو هم په عربۍ ادب کښې ښکاره وو. نو ځکه مونږ دا په يقين سره وئيلے شو چې عجم ته قصيده د عرب نه راغلې ده. خو تر څو پورې چې د قصيدې د آغاز او ارتقاء خبره ده نو په دې موضوع په وړاندې بابونو کښې مفصل بحث شوے دے. مونږ دلته د قصيده ګويۍ د بهاريه رنګ د قصائدو د تاريخ لنډه شان جائزه وړاندې کوو. قصيده د عربۍ د ريګستاني ژوند د قبائيلي او کلي وال ژوند ژواک يوه ښکلې عکس بندي ده. دغه قصيده د خپل چارپېرچل او د کلي وال ژوند منظر کشي وړاندې کوي نو په دغه سبب د دغې قصيدې تشبيب د بهاريه تذکرې او د سپرلي خېزه رنګينۍ رنګونه خپل کړ يدي.

زما د تحقيق تر مخه په قصيده کښې د بهاريه رنګ د ګډون د بنياد او اساس هم دغه غټه وجه ده. هر څو که د بني اميه تر خلافته عربۍ قصيده کښې بدوي رنګونه ځلېدل. خو چې کله د بني اميه د خلافت مرکز بغداد کښې قائم کړے شو او د عجمو او عربو ادبي رنګونه سره

* Lecturer Department of Pashto UOP

** Associate Professor Pashto Academy UOP

ګډ وډ شول نو قصيده هم په عجمي رنګونو کښې رنګ شوه. عبدالحئ حبيبي صېب دې ضمن کښې ليکي: "د عربو قصيده د بني اميه تر خلافته پورې هم دغه بدرې خاص عشير وي. رنګ او فصاحت کښې وه خو چې د خلافت مرکز له د مشقه بغداد ته رانقل شو. او عجمي د مدنيت او کلتور او ثقافت اثر په عربۍ ادب کښې ښکاره شو. نو دلته قصيده هم په عجمي فکر او رنګ اورنګېدله[1]."

د عبدالحئ حبيبي صېب د دې اقتباس نه دا خبره نوره هم په ډاګه شوه چې عربۍ قصيدې عجمي رنګ اخستے دے. د شعر اوزان د فارسيبانو او خراسانيانو ډېر قديمي دي. د اسلام د مخه دوي په درې ژبه قصيدې وئيلې دي. او په ۲۵۰ هجري کښې چې کله يعقوب ليث د افغانستان د آزادۍ عَلَم اوچت کړو نو يو شاعر ورته عربۍ قصيده اووئيله. يعقوب ليث پخپله ژبه کښې دغه شاعر ته د قصيدې وئيلو اووئيل. او پس له دغې په درې ژبه قصيده ګوئي پېل شوه. د دغې قصائدو غټ خصوصيت دا وو چې په تشبيب کښې به ئې خامخا د بهار او د سپرلي تذکره کېده. او هم دغه روايت بيا په فارسۍ کښې هم خپل کړے شو. په دې لړ کښې عبدالحئ حبيبي وائي: "د فارسۍ قصيدې تشبيب په دغه حال محصور نه شو پاتې. چاپېرچل او ثقافت او زمانې پرې هغه باندې اغېزه اوکړه. او دا ځکه چې د خراساني شاعر په مخ کښې د طبيعت ښکلي مناظر او د کوهسار ښائست لمنې، د ګلشن او چمن تازه هواوې او د بلبلانو خوارۀ غړونه او د اوبو ډک بهانده سيندونه او داسې نورې ښکلې منظرې پرتې وې نو له دغو ليدونو کتنو څخه هم شاعر د قصيدې په تشبيب کښې کار واخست او د خپلو قصيدو پېل ئې په پسرلينو مطالعو وکړ[2] ".

د حبيبي صېب دغه نقطه نظر چونکې د فارسۍ د قصيدې يو ځلېدونکے رنګ ګرځېدلے وو نو کله چې بيا پښتو ته قصيده د فارسۍ شعر په فني لارو او قواعدو راتله نو د تشبيب دغه پسرلي رنګونه او منظرونه ئې د ځان سره راوړل. په پښتو قصائدو کښې د بهار د ګلونو او پسرلي د منظرونو تذکرې په خصوصيت سره شوې دي. او دومره خوښې کړے شوې دي. چې د قصيدې په ګريز، مدعا وغېره کښې به هر څۀ وو خو د بهاريه تشبيب په مناسبت ئې ورته بهاريه قصيدې نامه ورکړې ده. د بهاريه قصيدې د دغې لنډ شان تاريخي جائزې نه مونږ په دې نتيجه اورسېدو چې قصيده د لرې نه فارسۍ په لار پښتو ته راغله خو د فارسۍ د بهاريه رنګونو نه د عربۍ د درباري او تصوفي رنګونو په نسبت په خپل وجود کښې په خصوصيت سره جذب کړل.

په پښتو ادب کښې د قصيدې شروع د اسعد سوري د هغې اشعارو نه شوې ده. کوم چې د مير محمد سوري په وير کښې وئيلے شوې وه. که مونږ د اسعد سوري دغه قصيدو ته اوګورو نو د دې قصيدې په تشبيب هم د بهاريه قصيدې جوت اثرات شته دے. هر څو که وروستو په کښې د امير محمد سوري په سوګ ساندې وئيلے شوې دي خو تشبيب ئې د موضوع په مناسبت د بهار د ګلو تذکره ده. بهاريه تشبيهات په کښې شته. د سپرلي تذکرې لري. مطلب په پښتو کښې د خوشحال نه مخکښې په پښتو قصيده کښې بهاريه رنګونه موجود وو.

د فلــــک لــــه چـــارو څــــه وکــــړم کوکــــار
زمولـــوي هـــر ګـــل چـــې خانـــدي پـــه بهـــار
هـــر غنتـــول چـــې پـــه بېـــديا غوړېـــدۀ وکـــا
رېـــژوي ئـــې پـــاڼې کانـــدي تـــار پـــه تـــار

ډېـــر مخونـــه د فلـــک څپېـــړه شـــنه کـــا
ډېـــر ســـرونه کـــا تـــر خـــاورو لاندې زار
د واکمـــن لـــه ســـره خـــول پرېباســـي مـــړ شـــي
د بـــې وزلـــو وينـــې تـــوې کانـــدي خونخـــوار
چـــې لـــه برمـــه ئـــې زمـــري رپـــي ځنګلـــو کښـــې
لـــه اوکـــو بـــه ئـــې ډاري تېـــرو جبـــار
هـــم ئـــې غشـــي ســـکني ډال د ژبلـــورو
رســـتمان ځنـــې ځغـــلا کانـــدي پـــه ډار
چـــې ئـــې مـــلاوې نـــه کړېـــږي پـــه غښـــتليو
وا فلـــک پـــرِ وکـــا څـــۀ کـــاري ګـــذار
پـــه يـــوه ګردښـــت ئـــې پرېباســـي لـــه برمـــه
نـــه ئـــې غشـــي نـــه ليندې وي نـــه ئـــې سـپار[۳]

د دې نه پس مونږ ته د پښتو ادب د قصيده ګويۍ په تاريخ کښې د ښکارندوي قصيده په مخه راځي. دوي د ۵۸۰هـ ق خواو شا د غور په دربار کښې قصيدې وئيلې دي. د دوي د پسرلينه قصيدو په حقله حبيبي صېب وائي: "دا قصيده په فني دود له يوه پسرلني تشبيه شروع کېږي او شاعر خپل نهائي قدرت د سپرلي د مناظرو په تصوير کښې ښکاره کوي. کوم حيات،

کوم حرکت، کوم نشاط او ښوربښت چې د پښتونخوا په پسرلي کښې شته، او د پارسي شعر د قصائدو د تشبيب يو ښکلے او په زړۀ پورې زېور دے په دغه قصيده کښې هم پروت دے"[۴].

د پسرلي ښکلونکي بيا کړۀ سينګارونه
بيا ئې ولونل په غرونو کښې لالونه
مزکه شنه، لاښونه شنۀ لمنې شنې شوې
طيلسان زمردي وغوسته غرونه[۵]

د ښکارندوي د قصيدو نه پس پښتو قصيده د روښانيانو په مکتب کښې داخلېږي. دلته د پښتو د قصيدې بيا روحاني، مذهبي او تصوفي رنګونه شوخ شوي دي. د صنعتي او ادبي ښکلا نه خالي او عاري ده. خو ولې دې سره سره ئې ځنې روښاني قصيده ګو هم د بهاريه تشبيبونو لمن نه ده پرېښې. او د خپلو قصيدو تشبيبونو نه ئې بهاريه ګرځولې دي. لکه د قادر داد چې د محمد زمان زوے وواو د پير روښان د کورنۍ څخه وو د دوي د يوې اوږدې قصيدې بهاريه تشبيب څۀ په دې رنګ دے.

ابتداء چې د حمل په درست جهان شي
زمکه سبزه زرغونه هم کوهستان شي
عندليب په ډېر هوس تر ګلو ګرځي
مراوي ګل په پرېشاني کښې خندان شي[۶]

د کريم داد بنګش د قصيدې د بهار د مناظرو تشبيب څۀ په دې ډول دے.

ښۀ نسيم چې زيرے راوړله بهاره
عندليب مې په فغان شه تر ګلزاره
په وصال ئې د ګل ډېره خوښي وشوه
چې په ځان ئې محنت و ځکاوله خاره
په چمن ئې له ګلبانګه شر او شور که
په هر هر نفس ئې ذوق دي له دلداره
د نيسان او رومه د ورسره وکه
په هر لور ګلونو وتړل قطاره

مست بلبل لکه خلیل په کښې جار ووځي
د نمرود اور شه ګرګند له لاله زاره
د لاله پیاله له سرو شرابو پر شوه
نرګس سترګې کړې ورپورته له خماره
څه راحت بدله ژوندونه که په بخره
چې په هسې ښه موسم ګرځي بې یاره[7]

د دغو روښاني قصیده ګو د دې بهاریه تشبیبونو په بنیاد مونږ دا وئیلې شو چې د پښتو قصیدې د شروع نه کوم بهاریه رنګ خپل کړے وو هغه ئې تر خوشحال بابا د بزمي، اخلاقي، مدحیه او حبسیه قصیدې پورې قائم او دائم ساتلے دے. د خوشحال بابا نه مخکښې هم په پښتو قصیده ګویۍ کښې د بهاریه قصیدو روایت ژوندے وو. دغه روایت بیا وروستو خوشحال بابا په خپله اثرناکه عشقیه قصیده کښې د ارتقاء تر لوړ مقام پورې اورسوله.

**د خوشحال خان خټک بهاریه قصیدې:** کله چې د خوشحال بابا د شاعرۍ زرین او حسي دور شروع شو نو دې نومیالي او همه جهت لیکوال د پښتو ادب تر نورو صنفونو په رنګ پښتو قصیده هم د خپل لافاني تفکر او د رزم سره سره د بزم او بیا په رندانه او بهاریه حسن او ښکلا هم ښائسته کړه او په قصیده کښې ئې دومره خواږهٔ راپیدا کړل چې صنعتي او فني لحاظ ئې دومره اوپاللو چې تر خوشحال بابا وروسته د دوي د کورنۍ ټولو شاعرانو د خوشحال بابا د بهاریه قصیدې په تتبع کښې د سپرلو د رنګینو، د ښکلو ګلونو، او د زړهٔ راښکونکو منظرونو قصیدې اووئیلې. په پښتو ادب کښې د قصیدې دغه مقام هم د خوشحال بابا د سپېڅلي فکر او د علمي استعداد د برکت دے. د خوشحال بابا د بهاریه قصائدو نه دا اندازه په ډېره ښهٔ توګه لګي چې دوي د فطرت د حسن نه ډېر متاثره وو. دوي چې په خپلو بهاریه قصیدو کښې د فطرت د حسن په باب له کوم تفکرات او تخیلات وړاندې کړي دي هغه د دوي د بهاریه قصیده ګویۍ ښکاره نخښې دي.

د پښتو ژبې سر محقق او لیکوال دوست محمد کامل د خوشحال د فطرت نګارۍ په حقله لیکي: "خان علیین مکان که یو خوا د اخلاقیاتو، سیاسیاتو او د انسان د انفرادي او اجتماعي ژوند په باره کښې د حکمت و دانش ملغلرې توې کړې دي او د قومیت او وطنیت د جوش او ولولې نه ډکې نعرې ئې لګولې دي. د حسن و عشق خوږې او شانداره سندرې ئې وئیلي

دي او پُرسوزه نغمې ئې غږولې دي نو بل خوا ئې د فطرت د مخ نه هم نقاب پورته کړے دے او د هغۀ د خط و خال تصوير ئې راښکلے دے. خان د فطرت حسين و جميل رخ هم ښکاره کړے دے او هغه رخ ئې هم ښکاره کړے دے چې هغه په ظاهري طور سره بدرنګ او ناخوشګوار ښکاري. د فطرت په باره کښې ئې په متفرق نظمونو کښې هم شعر نيم شته دے او د غزل، رباعي او قصيدې په شکل کښې ئې د فطرت د عکاسۍ دپاره پوره نظمونه ليکلي دي لکه نوروز، د پسرلو موسم راتګ، د ژمي موسم، په غر او سمه کښې ښکار، يو محل د دې باغونو او نهرونه، تندرستي، بيماري، بوډاتوب، قحط، وبا او په مرګ وغيره مشتمل دي[۸].

د دې اقتباس نه په ښۀ توګه د خوشحال بابا د هغې شاعرۍ جوت خصوصيات رابرڅېره کېږي کوم چې هغوي په خپلو بهاريه قصائدو کښې کړې ده. د خوشحال بابا د بهاريه قصيدو يو بل غټ صفت دا هم دے چې دوي په بهار او سپرلي پوره پوره قصيدې ليکلې دي. يعنې د نورو کلاسيکي قصيده ګو شاعرانو په رنګ ئې صرف په بهاريه تشبيب اکتفا نۀ ده کړې بلکې د سر نه تر اخره پورې ئې ټوله قصيده د بهار او سپرلي د رنګينونه ډکه ده. او که بيا ئې چرته په تشبيب کښې هم د بهار تذکره کړې ده نو هغه ئې هم په ډېر زړۀ راښکونکي انداز سره کړې ده. لکه د مثال په طور ئې دا قصيده:

د نوروز منت په باغ دے په صحرا کښې
نوراني ئې شي له فېضه هغه دا هم
چې په باغ کښې رنګارنګ ګلونه وا شي
غنيمت ده د ګلونو تماشا هم
لخلخې د نوبهار په هر مشام ځي
ګلدستې ئې څنډوي پيرو برنا هم
دګلونو هار په غاړه د دلبرو
شرموي لعل و ياقوت لولو لالا هم
د معشوقو په زلفينو کښې ځاے وکا
ښائسته ګلونه پاس په وربل لا هم
ارغوان که بنفشه که شقائق دي
زېبائي لري يو ځاے جدا جدا هم

په هر ګل باندې ټټر مړې بلبلې
بیا له شوقه په هوا کاندي نوا هم
د هر ګل په مخ چې سر کښېږدي بلبله
پرې غلطان راځي باد صبا هم
په ګلزار پسې بلبله دل کباب ده
په ارمان ئې ځیګرخون دے د مېنا هم
څوک په عېش په عشرت کښې څوک په غم کښې
ځنې څهٔ چارې لیدهٔ شي په دنیا هم
د قفس بلبله ژاړي ګریاني کا
چې به چېرې په ګلګشت والوځو بیا هم
په هغو زما سلام ما دې هم یاد کا
په ګلزار کښې نګار لري صهبا هم
څو بهاره مې بې مېو معشوقه ځي
دا خو د رائے فلک څهٔ چارې کا په ما هم

ما وې زر به څرخ زما په کام رااوخوري
ولې ډېر تعطیل ئې وکړ لائې کا هم
چې و خپلې کامرانۍ و ته مې شا کړه
غم اندوه د فلک نه لرم پروا هم
د سفله منت به هېڅ دانا وانهٔ خلي
چې خبر ئې په خصلت شي په عطا هم
د منت دارو که مرم پکار مې نهٔ دي
که علاج لره مې راشي مسیحا هم
د فرښتو آمین منت دے په دعا کښې
لاجرم ورځنې پټه کړم دعا هم
د جهان غمونه واړه په کښې ځاے شول
شکر دا چې زړهٔ ئې لوے راکړ و ما هم

چــــې لیـــــدلې دې وفـــــا د هغــــــه یـــــا روي
پـــــه دوه ســـــترګو قبلـــــوه د دۀ جفـــــا هـــــم
ښـــاپیرۍ مـــخ پـــه خـــوب کښـــې راښـــکاره کـــړ
لیوتتـــــوب مـــــې ورســـــره مونـــــدۀ ســـــو دا هـــــم
کـــه خوشـــحال د یـــار وصـــال پـــه دنیـــا مـــومي
تمـــامي دنیـــا تـــرې ځـــار شـــه مافیهـــا هـــم[۹]

د دې قصیدې په باره کښې ښاغلې پروفېسر ډاکټر اقبال نسیم خټک صېب لیکي: "د نوروز پـه مشهوره قصیده کښې چې خوشحال د فطرت د ښکلا ځومره پـه دلچسپ او دلکش انداز کښې اظهـار کړ ےدے نـو داسې معلومېږي چې ګنې شاعر د لفظونو مصوري کړې ده. لوسـتونکے داسې محسوسوي چې هغه الفاظ نۀ لولي بلکې تصویرونه ګوري. په فطرت نګارۍ کښې د دغـه پائې کمال حاصلول صرف د خوشحال برخه ده[۱۰]".

د بېلتون په حقله د لیکلې قصیدې دا تشبیب ئې هم د لوستو دے چې خوشحال بابا پـه کښې په کوم ښکلي انداز د بهاریه تشبیهاتو په اړه د بهار رنګونه وړاندې کړې دي.

معطـــر مـــې دغـــه ګـــل پـــه بـــوئي مشـــام دے
چـــــې جمـــــال ئـــــې د بلبـــــل د زړۀ آرام دے
د ګلونـــــو حســـــن ښـــــۀ دے بـــــلا دا شـــــوه
چـــې ئـــې وصـــل پـــه اغـــاز پـــورې انجـــام دے
دا د ګلـــو خـــوئي خصـــلت دے پـــه چمـــن کښـــې
چـــې راتلـــۀ ئـــې دېـــر لاږغـــه لـــږ ئـــې مقـــام دے
ګلـــه تـــۀ چـــې لـــه بلبلـــه مـــخ جـــار باســـې
مګـــر ســـتا پـــه خپـــل ښائســـت امیـــد مـــدام دے
د بهـــــار د ســـــرو ګلونـــــو صـــــفت څـــــو کـــــړم
ولـــې بـــې یـــاره هـــر ګـــل د زهـــرو جـــام دے[۱۱]

د خوشحال بابا دغسې بهاریه تشبیبونو نـه پرتـه چې هغوي د پسرلي پـه ښـکلا کومـه قصیده لیکلې ده هغه د دې خبرې ثبوت دے چې خوشحال بابا د بهاریه قصیدو یو بې بدلـه تخلیق کار وو. هغه د فطرت په حسن مئین وو. او هغۀ ته د فطرت ښکلا د زړۀ او ذهن خوشحالي

وربخښلې وه. او دوي د فطرت د حسن نه ډېر اثر اخستے دے. او د دغه سدا بهار زړۀ نه پورته شوې هره جذبه د ژوند د رنګینو نه ډکه ده.دغه شان یوه بله قصیده چې خوشحال بابا په کښې د رنګونو بهاري کېفیت په ډېر ښکلي انداز کښې بیان کړے دے. هغه که چمنونه دي که باغونه که ګلونه که ابشارونه او فوارې دي. هغه ټول منظرونه ئې خپل قلم ته سپارلي دي.

چې موسم مې د ګلونو د ګلزار شي
نرم نرم ترشح په مرغزار شي
د هغه له بخته څوک برابري کا
چې په هسې وخت ئې سېر په ګلزار شي
نن زما طالع له ما سره مدد کا
بخت دې هر کله دا هسې مددګار شي
چې مې ناسته د صورت په هسې ځاے ده
چې ثناء ئې په لته د هندوبار شي
په دا ځاے چې دا ابدالو نظر وشو
عاقبت به په همه جهان اوځار شي
په چمن کښې ئې اوبۀ دروميې روانې
په سبزه باندې ناري د جوئبار شي
په دا هسې پاکیزه اوبو سلسالو
شماتت ئې د کشمیر په شالامار شي
د سرې سترګې روښانې زړۀ خوشحال کا
چې اوبۀ د فوارو سره تار تار شي
چې له پاسه نه اوبۀ راځي په ښکته
وائې سپینې ملغلرې دي نثار شي
هغه ځاے چې د مرمرو فوارې دي
ترغه ځاے دې د ارم تماشه ځار شي
تۀ به وائې د آسمان تنا غورزا شوه
چې اوبۀ ئې راروانې د آبشار شي

چې په سر ئې د حوضونو شوک ګذر کا
وائي پاس په آئينو باندې رفتار شي
مرغاوۍ په حوضونو کښې غوټې کې
د محل په مخکښې ناست د بازو ښکار شي
تۀ به وائې د نمردو د اور لمبې دي
سرۀ لاله چې په چمن کښې انتشار شي

سه برګه ئې عجائب سره وودلي
فرق ئې لا ديراقونو تر کنار شي
که سل برګ که بنفشه که ارغوان دے
د هر ګل په ننداره خاطر قرار شي
د هغه صانع تر صنع صدقه شم
چې ئې هسې د قدرت په لاس نګار شي
واړه ونې ئې د آسمان سره سيالي کا
ولې فرق په کښې د ونې د چنار شي
په هزار رنګه نوا شي د مرغونو
هغه دم چې په چنارو کښې چغار شي
د مرغونو د نواله موجه ښوري
نۀ له باده ښوريدنه د اشجار شي
عمارت ئې ګچ وهلے په کښې کړے
په هر کور کښې د جويونو شړهار شي
دوه سو تير سو رهر وان دي په کښې طرح
د سپين والي ئې تېرې په سپين چوتار شي
لطافت ئې د هوا تر حده تېر دے
په کښې روغ به د اتيا کالو بيمار شي
که زاړۀ په دۀ کښې کښيناستے زلمي شوے
په هوا ئې زما هسې اعتبار شي

دا مکـــان بـــه د بهشـــت ســـره داخـــل کـــا
کـــه رضـــوان ئـــې لـــه نشـــاطه خبـــردار شـــي
همګـــي صـــفت ئـــې تېـــر دے تـــر حســـابه
لـــه همـــه ؤ کـــه وئيـــل کـــوم طومـــار شـــي
دا بِنـــا د آصـــف خـــان لـــه لاســـه شـــوې
اوس پـــه حکـــم د خـــورم پـــه کښـــې دا کـــار شـــي
زرا نـــه پنځـــوس کـــالو نـــه د هجـــرت وو
د نـــوروز پـــه دولســـم چـــې دا ګفتـــار شـــي
پـــه خوشـــحال وو هـــم دا هـــومره چـــې وئيـــل شـــول
نـــور د عقـــل حکـــم نـــۀ دے چـــې تکـــرار شـــي[12]

"دا يـوه مـنلے شـوې خبـره ده. او يـو ناقابـل ترديـد حقيقـت دے چـې خوشحال په ژوند کښې د شخصياتو د قصيدو او مدحو وئيلو نه ډډه کړې ده. ځکه چې د هغۀ په نزد د تعريف جوګه فقط الله پاک، د هغۀ نازولي پېغمبران او بزرګان دي خو هر کله چې خوشحال د يو فرد داسې محل ليدلے دے چې هلته د فطرت او فن ښکلاګانې راغونډې شوي وي نو بيا د هغۀ حسن بين نظر او حسن شناس زړۀ د اختيار بندونه اوشلول. خوشحال د محل د مالک تعريف نه اونۀ کړو بلکه د محل د ښکلا تعريف ئې اوکړو[13]".

په اخري شعرونو کښې ئې دا هم واضحه کړې ده چې دغه محل د مغل بادشاه شاهجهان د خپل سخر آصف خان دپاره په لاهور کښې جوړ کړے وو. او خوشحال بابا چې په دې قصيده کښې په کوم انداز او په نادره تشبيهاتو د دې باغ منظرکشي کړې ده. هغه د بهاريه قصيدو يو مثالي نمونه ده.

## حوالې


۱. حبيبي عبدالحئ - د پښتو ادب په تاريخ کښې قصيده - ص ۲
۲. هم دغه، ص ۹
۳. هم دغه، ص ۱۸
٤. هم دغه، ص ۲۷
٥. هم دغه، ص ۲۸
٦. هم دغه، ص ۴۵
۷. هم دغه، ۵۲ - ۵۳
۸. خوشحال خان خټک (اردو)، ۱۹۵۲ء، ص ۳۵۹
۹. کامل دوست محمد - کليات خوشحال - ص ۵۷۲-۵۷۷
۱۰. خټک محمد اقبال نسيم پروفېسر - خوشحال او جماليات - جدون پرېس پېښور چاپ کال ۱۹۸۷ء ص ۳۱۹
۱۱. کامل دوست محمد - کليات خوشحال - ص ۲۱۲-۲۱۷
۱۲. هم دغه، ص ۲۱۵-۲۱۲
۱۳. خټک اقبال نسيم پروفېسر ډاکټر - خوشحال او جماليات - ص ۳۲۱